# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مــــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

afgazad@gmail.com www.afgazad.com

| تاریخی | Historical |
| --- | --- |



هارون خیل شعشعی


۲۱ مارچ ۲۰۱۱

## د جنډې پورته کولو تاريخي ريښې؟

څو کاله مخکي د انګلستان يوه تلويزيوني کانال د مغولو د ژوندانه، کولتور او تاريخ په اړه يواوږد مستند فيلم خپورکړ. د دې اوږده مستند فيلم په يوه برخه کي يې داسي صحنه وښوول، چي د کال په لومړی ورځ ( نوروز) يې زموږ افغانانو د جنډې پورته کولو له مراسمو سره بشپړ ورته والی درلود . د ليري پرتو مغلو د جنډې پورته کولو ددې مراسمو په لېدو سره ماته د افغانستان په مزار شريف کي د« نوروز» د جنډې پورته کولو د مراسمو په باره کي ځيني پوښتني پيدا سوې، چي دلته يې د علمي څېړني او شنني په مقصد د هيواد د فاضلو مؤرخانو او محققانو مخ ته ږدم . اما مخکي تر دې چي د جنډې پورته کولو د دود او رواج د ريښي، تاريخي بدلونو او ديني ارزښتو په باب خپلي پوښتني وړاندي کړم، ضروري ګڼم چي د مسألي د ښې شنني او سپړني له پاره يو ځل په چټکۍ سره د دې لرغوني هيواد په اړه د ځينو تاريخي او جغرافيايي آثارو پاڼي واړم؛ او د هغو په رڼا کي دا حقيقت څرګند کړم، چي د بيرغونو يا جنډو ځړولو دود کله، چيري او څنګه پيدا سو؟ موږ ته تر را رسېدو پوري يې څه بدلونونه او پړاونه ولېده؟

د لوی استاد - ارواښاد علامه عبدالحي حبيبي ( ۱۲۸۹ش/ ۱۹۱۰ع - ۱۳۶۳ ش/ ۱۹۸۴ع) د څېړنو له مخي، څلور زره کاله دمخه کله چي آرياېان تر آمو سيند را واوښته، نو يې د بخدي په هوارو او ارتو ورشوګانوکي واړول؛ او د خپل لومړني پاچا- د ويونګهوت، ويونګهان يا ويونجهان د زوی يمه/ يما (جم) په مشرۍ يې په بلخ کي يو متمدن ښار جوړ کړ. په همدې وختو کي خلګو د مزده يسنه = مزديسنا ( د خدای ستايني) په نامه يو دين جوړ کړ، چي ځانګړي عقايد، قوانين او لارښووني يې لرلې . د دې دين مؤسس زره ثوشتره ( زردشت، سپيتمه يا سپينتمان) ؤ (حبيبی، تاريخ مختصرافغانستان ۱۱- ۱۲) .

لوی استاد د همدې اثر په يوه بله برخه کي د بلخ يا بخدي په « واره » کي د نوي ښار او مدنيت څرنګوالی داسي بيان کړی دئ : « د اوستايي مدنيت په دوره کي، چي له ۱۲۰۰ ق م څخه پيل کيږي، په بخدي کي لومړنی پاچهي نظام جوړ سو. اوستا وايي : يمه/ يما د اهوره مزده په امر يوه « واره» جوړه کړه، چي اوږدوالی او پلن والی يې د يوه اسپريس ( د آس ځغلولو ډګر يا ميدان) په اندازه ؤ؛ او په هغه کي يې د پسو، غواوو، سپو، مرغانو او داسي

نورو حيواناتو نموني خوندي کړي . د اوبو ځای يي هم د يوې هاترې (ميل) په ګچه وکينه . په « واره» کي يي په خاص ترتيب سره بازارونه، کوڅي او خونهونه جوړ کړه؛ مگر په دغه ښار کي يي ناجوړو، درواغجنو، بدخويه، پيسو او لېونو ته ځای ور نه کړ. په دې ډول، د آريايي مدنيت لومړنی ښار د بخدي په « واره» کي جوړ سو؛ او دا اوستايي « واره » هغه کليمه ده، چي په سنسکريت کي « وهاره» سوې ده؛ او په دري کي په « بهار» اوښتي ده، چي د بلخ نوبهار يي تر لومړنی اسلامي پېړی پوري پر ځای ودان ۇ. »( حبيبی، تاريخ مختصر افغانستان ۱۵) .

لوی استاد په « نوبهار» او « واره» نومو مقالو کي کاږي، چي دغه « وهار» په پيل کي يوه واره باره يا کوچنی کوټ ۇ، وروسته د زردشتی دين مرکز سو؛ او د زردشت زوی (اوروتت نده) يي متولي ۇ. وروسته په بېلابېلو ژبو کي د دغو ټکو اتيمولوژيکي شنني او شکلي بدلونو ته داسي اشاره کوي : « واره، وهار، بهار له يوې ريښي څخه دي، مطلب يي لومړی پلا يو کوټګی يا کلاچه وه، وروسته معبد سو، او دا ريښه زموږ د اکثرو ښارو او ځايونو په نومو کي ليدله کيږي؛ لکه ننګرهار، کندهار، چېرهار او همدغه آريايي کلمه ده، چي په هندي کي « هور» ځني جوړ سو؛ لکه په لاهور او بمبور کي.» (حبيبي، « نوبهار» ؛ حبيبي، « واره ») .

لوی استاد د دې نامتو معبد تاريخي بدلونو ته د کتني په ترڅ کي کاږي : «کله چي بودايي دين دې خاوري ته لاره وموندله، د اورپرستی دغه زردشتي معبد په بودايي بودتون ( بتکده) واوښت، نو بودايانو د«نوويهاره » په نامه ياد کړ. ورپسي دا ټکی د زماني په تېرېدو سره په « نوبهار» واوښت . د لوی استاد له ژورو او مستندو تاريخي څېړنو سره سم يوازي د بلخ زردشتي - بودايي معبد په دې نامه نه يادېده، بلکي ټول هغه معابد هم د « نوبهار» په نامه يادېده، چي بودايانو په خراسان او سند کي د کوشانيانو د لوی پاچا د واکمنی تر سيوري لاندي جوړکړي وه؛ مثلاً په پينځه نيوي ( ۹۵) هـ ق کي د سِند په پايتخت اورور( روهري) کي د« نوبهار» په نامه يوه بتخانه وه، چي په « چچ نامه» کي يي يادونه سوې ده. په سمرقند کي هم يو« نوبهار» ۇ، چی ددغه ښار يوه دروازه يي په نامه مشهوره وه . » ( حبيبي،« نوبهار» ).

په دې ډول ګورو، چي د «نوبهار» نوم د هغه ښايست، پرتم او شهرت ته پام سره، د تبرُک او تيمن په بڼه د نورو ځايونو پر معابدو هم ايښوول کېده .

د ليکني په دې برخه کي د بلخ د « نوبهار» د تاريخي معبد د بېلابېلو اړخونو په باره کي د نړی د ځينو مؤرخينو، جغرافيا ليکوونکو او سياحانو د نظريو لنډيز وړاندي کوو، چي په دې توګه له يوې خوا د درنو لوستونکو ذهنونه روښانه کړي؛ او له بلي خوا د طرحه سوو موضوعاتو په اړه د يوې معقولي او علمي نتيجي په تر لاسه کولو کي مرسته وکي .

د چين زاير هيون تسنګ چي د شپږ سوه دېرش (۶۳۰)عيسوي کال د اپرېل پر شلمه (۲۰) يا نهم (۹) هجري قمري کال په بلخ کي ۇ، وايي چي د دې ځای « نوه ويهار» د بودايي دين لوی معبد دئ . د هيون تسنګ د وينا له مخي د بلخ په « نواسنګهارامه » کي، چي وروسته د« نوويهار» او « نوبهار» په نومونو يادېده، د بودا بت او د هغه د ايښوولو خونه په دونه قيمتي غميبو ښکلی سوي وه، چي د يفتلي پاچا زوی- شاطر خان يي د غلا کولو هوډ وکړ ( سي يو کي لومړی کتاب ۱۰۹؛ حبيبی، تاريخ افغانستان بعد از اسلام ۶۶۷) . د هيون تسنګ له وينا سره سم په همدې کال د بلخ په نوبهار کي د بودا يو غاښ، د غسل کولو لګن او جارو پراته وه، چي ټوله په جواهرو ښايسته سوي وه( حبيبي، « نوبهار») .

احمدبن ابي يعقوب بن جعفربن وَهْب بن واضح يعقوبي( د دريمي هجري پېړۍ مشهور مؤرخ او جغرافيا ليكوونكى) په «البلدان» كي د « نوبهار» د ځاى ځايگي په اړه داسي كاږي : « . . . نوبهار، چي د برمكيانو خونه دئ، د ښار[بلخ] په يوه كونج يا څنډه كي پروت دئ؛ او د ښار له دولسو بارو څخه د هغه تر مخامخ دروازې پوري يو فرسخ لاره ده.» ( يعقوبي ۶۴؛ بيژند ۲۳۶).

ځيني عرب مؤرخين او جغرافيا ليكوونكي د «نوبهار» د جغرافيايي موقعيت په باره كي يوازي دونه وايي، چي د « نوبهار» معبد په ربض [ حصار، احاطه، ځلورديوالي ] كي پروت ۇ. د «بلخ آب » سيند يي له دروازې سره تېرېده؛ او لكه څنگه چي محمود بن امير ولي بخاري په اوولسمه عيسوي پېړۍ كي كښلي دي، د« نوبهار» دروازه د ښاره په جنوبي برخه كي وه، چي په هغه وخت كي يي د خواجه سلطان دروازه بلله ( بارتولد، جغرافياى تاريخى ۵۹ بحوالت بحر الاسرار فى مناقب الاحرار محمود بخارى (خطى)؛ حبيبى، تاريخ افغانستان بعد از اسلام ۶۶۶ ).

نامتو روسى څېړونكى او ختيځ پوهاند **واسيلي ولاديميروويچ** بارتولد (۱۸۶۹- ۱۹۳۰ع) په خپله « تاريخى جغرافيه » كي وايي : « د يوې چيني شرحي پر بنسټ، د نوبهار په معبد كي د بودايي دين څو روحاني كسان ښخ سوي دي . د معبد په شمال كي يي د هډوكو د ساتني له پاره يو ځاى جوړه كړې ۇ، چي دوه سوه (۲۰۰) فوټه لوړوالى يي درلود. په سوهيل يا جنوب كي يي بل معبد ۇ.» ( بارتولد۵۹؛ حبيبي، تاريخ افغانستان بعد از اسلام ۶۶۷) .

په «مختصر البلدان » كي د ابن فقيه همداني ( ۲۵۵ - ۳۳۰هـ ق) په وينا د « نوبهار» گومبته د « اشبت » په نامه يادېده، چي د سلو مترو په اندازه يي لوړوالى او پراخوالى درلود؛ او شاوخوا ته يي د متوليانو له پاره درې سوه شپېته (۳۶۰) حجرې لرلې؛ د كابل او چين پاچهان يي ليدو ته ورتله؛ او د هغه غټ بت عبادت به يي كاوه، چي په معبد كي اينبوول سوى ۇ ؛ ځكه چي نوبهار د بت پالوونكو د عبادت ځاى ۇ( همدانى ۳۲۳؛ حبيبى، تاريخ افغانستان بعد از اسلام ۶۶۷) .

ابن فقيه همداني يو بل ځاى ليكي : « برمكيانو په بلخ كي پر يوه بت خونه جوړه كړه، چي نوبهار يي بولي؛ او د نوي په مانا دئ . عجمو هغي خوني ته درناوى كاوه؛ سوغاتونه او تحفي به يي ور وړې؛ په وريښمينو ټوكرانو كي به يي پېچله؛ د هغه پر گومبته، چي «اشبت» به يي بلله، بيرغونه ځړول . د خوني پر شاوخوا درې سوه شپېته (۳۶۰) حجرې يا مقصورې جوړې سوې وې، چي د نوبهار خدمتگاران او متوليان به پكښي اوسېده. هر خادم يا متولي به يوه ورځ خدمت كاوه؛ او تر بل كال پوري به بيا خدمت ته نه حاضرېده. د نوبهار لوى متولي يي برمك باله . . . د نوبهار هر متولي ته به يي هم برمک وايه.» (همداني۱۷۲؛ بيژند ۲۳۵) .

نامتو مؤرخ - مسعودي (د ۳۳۰ هـ ق/ ۹۴۱ع په شاوخوا كي) په « مروج الذهب » يا « معادن الجوهر» يا « مسعودي تاريخ » كي كاږي : « د بلخ د نوبهار ودانۍ ډېره ټينگه او پياوړې ده؛ او پر سر يي د سلو گزو په لوړوالي د نيزو په څوكو زرغونه بيرغونه ځړولي دي؛ او شاوخوا ديوالونه يي هم لوړ او پلن دي . » ( مسعودي ۲/ ۱۳۷ ؛ حبيبى، تاريخ افغانستان بعد از اسلام ۶۶۷) .

لكه څنگه چي گورو د بلخ د « نوبهار» ودانيو يوه لويه گومبته لرله، چي عربو ليكوالود « استن »، « است » او « اسبت » په بېلابېلو نومونو ياده كړې ده. ياقوت حموي په «معجم البلدان » كي هغه د « استن » په نامه كښلي ده، چي لوړوالى يي تر سلو گزو ډېرۇ؛ او هري خواته يي گردي رواقونه يا سايوانونه لرل؛ او پر شاوخوا يي د خدمتگارانو او متوليانو له پاره درې سوه شپېته (۳۶۰) حجرې جوړې سوې وې؛ لويه گومبته به يي په وريښمينو

ټوکرانو کي پيچله؛ د معبد جنډي به په « ترمذ» کي ليدل کېدې، چي دولس فرسخه[ هر فرسخ تقريباً شپږ کيلو متره] له هغه ځخه ليري ۇ( معجم البدان ۵/ ۳۰۷).

لسترنج د « مروج الذهب » په حواله د ختيځ خلافت د هيوادو په تاريخي جغرافيه کي د نوبهار په اړه د نورو مؤرخانو د بيانونو پر راوړلو سربېره، دا خبري هم کاږي : « . . . نوبهار يي د کعبي له خوني سره د سيالی له پاره جوړ کړی ۇ؛ دېوالونه يي په قيمتي غميبو ښايسته کړي وه؛ او زريني پردې يي پر ځړولي وې؛ د اورپالني د دغه معبد پر سر يي لويه گومبته جوړه کړې وه؛ پر گومبته يي د ورېښمينو ټوټو بيرغونه يا جنډې ځړولي وې، چي د باد او سېلييو پر مهال به له باور نه کېدونکي واټن ځخه دوري هوري رپېده؛ يو لوی بت او ځو نور بتان پکښي ايښوول سوي وه؛ او له کابل، هند او چين ځخه به يي ډېر خلگ زيارت ته ورتله؛ وروسته تر دې، چي بتانو ته به يي سجده وکړه، د لوی متولي - برمک لاس به يي مچاوه. د نوبهار شاوخوا ځمکي اووه په اووه فرسخه کي دې اورپالونکي معبد( آتشکدې) ته وقف سوي وې؛ د معبد پراخ لگښتونه د ځمکو له عايداتو ځخه ورکول کېده. » ( بيژند ۲۳۵).

د لسترنج له بيان ځخه په ځرگنده ښکاري، چي په « نوبهار» کي د اورپالني او بت پالني دواړو نښي نښاني خوندي وې . د « ملل و نحل» مؤلف - ابی الفتح محمد بن عبدالکريم شهرستاني (۴۷۹- ۵۴۸ هـ ق) هم د« نوبهار» په شان غيراسلامي معابدو د ديني بدلونو په اړه همدې خبري ته د اشارې په ترڅ کي ليکي :« له دغه ډول معابدو ځخه ځيني پخوا بتخاني وې، چي وروسته په اورپالوونکو معابدو( آتشکدو) واوښته . د بت پالوونکو تر منځ به ډېري شخړي پېښېدې، نو ځکه به لاس پر لاس اوښته؛ هرځوک چي به واکمن سو، د نورو معابد به يي د خپل دين او مذهب په معابدو اړول . . . له هغي ډلي ځخه يو هم نوبهار دئ، چي منوچهر په بلخ کي جوړ کړ؛او بلخيانو د اسلام تر راتگ وروسته وران کړ. » ( شهرستانی ۴۲۸؛ بيژند ۲۳۷).

د پارسي ژبي نامتو حماسي شاعر - حکيم ابوالقاسم فردوسي طوسی ( ۳۲۹- ۴۱۱ هـ ق) هم په خپل تلپاته اثر« شاهنامه » کي د لسترنج مخکني ټکي ته اشاره کړې ده، چي د بلخ زردشتي پاچهان به« نوبهار» ته د درناوي او تعظيم له پاره ورتله؛ او دې اورپالونکي معبد د هغه وخت زردشتيانو ته د مسلمانانو د کعبې شريفي مقام او منزلت درلود؛ هغه وايي:

چو گشتاسپ را داد لهراسپ تخت

فرود آمد از تخت و بربست رخت

به بلخ گزين شد بدان « نوبهار»

که يزدان پرستان بدان روزگار

مر آن خانه را داشتندی چنان

چو مرکعبه را تازيان اين زمان (بيژند ۲۳۶؛ حبيبی، تاريخ مختصر افغانستان ۲۲) .

د حدود العالم من المشرق الی المغرب نامالوم مؤلف هم په بلخ کي د « نوبهار» د معبد يادونه کوي؛ دی وايي : « بلخ لوی او سمسور ښاراو د پاچانو استوگنځی ۇ . په پخوا زمانو کي د پاچهانو ودانی پکښي وې، چي خورا عجب نقش و نگار يي لاره، هغو ته يي نوبهار وايه . بلخ د سوداگرو ځای دئ؛ په هغه کي يو لوی سيند يا رود دئ، چي د باميان له شاوخوا ځخه راځي؛ او بلخ ته نيژدې پر دولسو برخو وېشل کيږي؛ او ښار ته ننوزي ... » ( ستوده ۹۹؛ بيژند ۲۲۹) .

زموږ هراتي مؤرخ او جغرافيا ليکوونکی حافظ آبرو (۷۶۳ - ۸۳۴ هـ ق) هم د ځينو نورو مؤرخينو او جغرافيانگارانو په تأييد وايي : « منوچهر په بلخ کي يو خونه جوړه کړې وه، چي نوبهار يې باله؛ او تر ټولو بتخانو لويه وه؛ ډېر درناوی يې کېده؛ د دې خوني تاداو يې سل په سل کي ايښی ؤ؛ خو لوړوالی يې تر سلو گزو زيات ؤ.» ( بيژند ۲۳۶).

سلطان محمد مفتي بلخي ( د ۹۷۰هـ ق په شاوخوا کي ) په « مجمع الغرايب » کي ليکي: د بلخ له عجايبو څخه يوه دا وه، چي د برمکيانو کور نی د بلخ په چپاخان کي يو خونه جوړه کړې وه، چي لوی والی يې سل گزه په سل گزه کي او جگوالی يې دوه سوه گزه ؤ؛ او د نړی له بېلابېلو سيمو څخه پاچاهان او خلگ د هغه طواف ته راتله. دغه خونه يې د اميرالمؤنين عثمان د خلافت پر مهال ورانه کړه؛ او د چپاخان ځای د بلخ قبلي خواته دئ . »( حبيبی، تاريخ افغانستان بعد از اسلام ۶۶۶ ).

د لوی استاد اروابناد علامه حبيبي دڅېړنو له مخي د بلخ « نوبهار» د اسلامي دورې ترڅلوېښتم ( ۴۰ هـ ق) يا شپږ سوه شپېتم (۶۶۰ع) کال پوري لا هغسي ودان ؤ . تر دغه کال وروسته د حضرت معاويه بن ابوسفيان د واکمنی پر مهال عربي - فاتح قيسل بن هيثم سلمی، بلخ ونيو او دا معبد يې و نړاوه؛ او همداسي متروک پاته سو( حبيبي، « نوبهار»؛ حبيبي، تاريخ مختصر افغانستان ۹۲).

معظم استاد - علامه حبيبي، تر نړېدو وروسته د« نوبهار» د وروستيېو پرمختياوو په اړه داسي کاږي : «په يو سلو اته اويا( ۱۷۸) هجري کال چي فضل د يحيا برمکي زوی د خراسان والي سو، ده غوښتل چي ددغه معبد خرابي وراني کي او پرځای يې ماجت جوړ کي، مگر دا ودانی داسي ټينگي وې، چي نړول يې گران ؤ، نو ده يې يوه گوښه ورانه کړه، او پرځای يې اسلامي ماجت جوړ کئ . دا ماجت چنگېز و نړواوه؛ مگر وروسته بيرته مسلمانانو ودان کئ، لکه چي د ابن بطوطه تر وخته لا هم د اسلامي نړی يو لوی او پرتمين ماجت ؤ.»

لکه څنگه چي مخکي هم څو ځايه يادونه وسوه د بلخ د برمکيانو مشهوره کورنی تر اسلام دمخه لا د « نوبهار» د معبد متوليان وه . همدا کورنی د عباسيانو د خلاف پر مهال د وزارت مقام ته ورسېده . د جعفر برمکي تر مړيني وروسته، «نوبهار» پرمخ وران سو.

يو عرب شاعر دې موضوع ته داسي اشاره کوي :

اوحش النوبهار من بعد جعفر

و لقد کان بالبرامک يعمر

ياني هغه «نوبهار» چي د برمکيانو پر مهال ودان ؤ، د جعفر تر مړيني وروسته وران او برباد سو.

(حبيبي، «نوبهار»)

لوی استاد د پټي خزاني په تعليقاتو اوهغه علمي - تحقيقي مقاله کي، چي د« بيرق در افغانستان » په نامه يې ليکلې ده، زموږ په تاريخي ټاټوبي کي د بيرغو ځړولو دود ته داسي اشاره کوي : « اوستا (تر مېلاد لږوډېر زر کاله مخکي) بلخ د لوړو بيرغونو ښار بولي . دا لوړ بيرغونه د شپږ سوه هجري قمري په شاوخوا کي د ياقوت حموي تر وخته له دولسو (۱۲) فرسخو څخه په ترمذ کي ښکارېده؛ اوهمدا بيرغونه تراوسه د حضرت سخي (رض) په مزار کي پاته دي ، چي د نوروز په ورځ په پرتمينو مراسمو سره پورته کيږي؛ او خلگ د افغانستان له گوټ گوټ څخه هلته د گبون له پاره ورځي.»( حبيبی، « تعليقات،» پټه خزانه ۲۴۱؛ حبيبی، « بيرق درافغانستان »).

ارواښاد علامه حبيبي د نامتو مؤرخ او جغرافيا ليکوونکي - ياقوت حمومي الرومي البغدادي ( په ۵۷۴ هـ ق کي زوکړی) د « معجم البلدان » د بيان په اړه داسي تبصر ه کوي :

« ياقوت په دې تړاو ښه شرحه ليکلي ده. دئ وايي د بلخ د « نوبهار» معبد ډېر مشهور او لوی ؤ؛ په ورېښمينو او نورو نفيسو ټوکرانو به يې پوښلئ ؤ. د هغه ځای خلګو عادت لاره، چي نوې جوړه سوې ودانی به يې په ګلانو پوښل؛ او د پسرلي په موسم کي به يې لومړني ګلونه همدې معبد ته وړاندي کول .» (حبيبی، «تعليقات،» پټه خزانه ۲۴۱) .

په ولسي روايتونو او تاريخونو کي د« نوبهار» د شأن او پرتم کيسي نه يوازي په بلخ، بلکي په نورو هيوادو کي هم پېړی پېړی ژوندی وې . له همدې کبله د « نوبهار» جلال او جمال د هغه تر ورانېدو څو پېړی وروسته په پاړسي ادب کي هم په خورا شدو مد ستايل سوی دئ . د معظم استاد - علامه حبيبي په نظر« نوبهار» اصلاً د حسن او ښايست، مهابت او صلابت سمبول ؤ. دی ليکي : « کله چي شاعر د ښکلا او سمسورتيا انځور کاږي، نو هغه د« نوبهار» په کلمه کي سره نغاړي . دا ځکه چي « نوبهار» د ښکلا او سمسورتيا ځای ؤ.» ( حبيبي، «نوبهار»)

دلته د مثال په توګه د څو پارسي ژبو شاعرانو په کلام کي د « نوبهار» په اړه څو بيتونه را اخلو. د غزنويانو د دربار ملک الشعراء - عنصري بلخي (۳۵۰- ۴۳۱ هـ ق) په دې بيت کي « بهارخانه » او « نوبهار» داسي يادوي :

ترا که کرد بتا! از « بهار خانه » برون

جهان بروی تو بر من چو « نوبهار» که کرد؟

د غزنويانو د دورې وتلئ او منلئ شاعر- په **فرخي سيستاني مشهور - ابوالحسن على بن جولوغ سيستاني ( په ۴۲۹هـ ق کي مړ) د « نوبهار» د بتانو په ستاينه کي داسي وايي :**

مرحبا ای بلخ بامی، همره باد بهار

از در نوشاد رفتی يا ز باغ « نوبهار»

خاصه اکنون کز در بلخ اندرون آمد بهار

بلخ بس خوشست، ليکن بليخانرا باد بلغ

مر مرا با شهرهای گوزگاناست کار

«نوبهار» بلخ را در چشم من حشمت نمايد

تا بهار گوزگانان پيش من بکشود بار

فرخي سيستاني د خپل ديوان په يوه بله برخه کي د« نوبهار» د بتانو او د بلخ د ګلابو داسي ستاينه کوي :

سه صد هزار گونه بت است اندر او به پای

هر يک چنان که خيره شود زو بت « بهار»

بدين خرمی جهان، بدين تاز گی «بهار»

بدين روشنی شراب، بدين نيکويی نگار

يکی چون بهشت عدن، يکی هوای دوست

يکی چون گلاب بلخ، يکی چون بت « بهار»

(http://ganjoor.net/farrokhi/divanf/ghasidef/sh۳۲/(بيژند ۲۳۷؛
البته، د غزنوي پېرهمدا پياوړی شاعر- فرخي سيستاني او ځينو نور نامتو شاعران لکه حکيم سنايي غزنوي د کندهاري بتانو په ستاينه کي هم بيتونه لري، چي يادونه يي موضوع بلي خواته بيايي .

د پينځمي هجري پېړی د دوهمي نيمايي شاعر- ابوبکر زين العابدين بن اسماعيل وراق هروي، چي په ارزقی هروي مشهورؤ، د« نوبهار» د صحرا ښايست او د « نوروز » جنډي داسي ستايي:

باد بهار چونکه ازين پس بروز چند
صحرای « نوبهار» نمايد چو قندهار
چون بر فراخت عيد علامت بدست شب
نوروز در رسيد و علمهای « نوبهار»

د دري ژبي بل مشهور او نوميالی شاعر- نظامي گنجوي/ گنجه يي (۵۳۵ - ۶۰۷ يا ۶۱۲ هـ ق) د« نوبهار» په ستاينه کي داسي وايي:

« بهار» دل افروز در بلخ بود
کزو سرخ گل را دهان تلخ بود
پری پيکرانی درو چون« بهار»
صنم خانه های چو خرم « بهار»

په دې ډول گورو چي د بلخ « نوبهار» لږ و ډېر شل پېړی په منځنی آسيا کي د بېلابېلو دينونو د ثقافت، ديانت او مدنيت مرکز ؤ . د چين، هند او منځنی آسيا د هونر او صنعت تر ټولو ښکلي او قيمتي آثار په همدې معبد کښي خوندي سوی وه .

تر دې ځايه مو د مؤرخانو، جغرافيا ليکوونکو، سياحانو او اديبانو په ارزښتناکو آثارو کي ډېر حقايق ولېده، چي هر يو يي پر خپل ځای بېلابېل تاريخي داستانونه بيانوي . هغه حقيقت، چي په دې لنډه ليکنه کي يي غواړو په ټينگار سره يادونه وکړو، يوازي دا خبره ده چي د زردشتيانو سپېڅلي کتاب - اوستا د عيسا (ع) تر زېږېدو شاوخوا زر (۱۰۰۰) کاله مخکي بلخ د لوړو جنډو يا بيرغونو ښار بللئ دئ . د بلخ د« نوبهار» د تاريخي معبد پر گومبته به داسي زرغونه بيرغونه رپېده، چي تر شاوخوا شپږ سوه (۶۰۰) هجري قمري پوري د نامتو مؤرخ او جغرافيا ليکوونکي - ياقوت حموي په شهادت له « ترمذ» ياني دولسو فرسخو څخه ليدل کېده. لکه څنگه چي تاريخي اسناد او شواهد ښيي، دا جگي جنډې به په اوستا او نورو زردشتي کتابو کي د بلخ له « نوبهار » سره يو ځای ستايل کېدې . په دې ډول گورو، چي د « نوبهار» پر گومبته د جگو بيرغونو ځړول، واقعاً زموږ په لرغوني مېنه کي اوږد تاريخ لري . سره له دې هم دا حقيقت پوره نه ښکاري، چي دا وربښمني جنډې يا بيرغونه د ديني عقايدو له مخي وه، که د غمييو او جواهرو په څېر يوازي د« نوبهار» د ښکلا او ښايست له پاره ؟ يا ښايي له يوې خوا د ښکلا او ښايست اوله بلي خوا د تبرُک او تيمن په مقصد؟ تر دې خبري چي تېر سو، د مالومو آثارو له مخي د دې خبري څرک هم نه ښکاري، چي د بلخ د « نوبهار» جنډې د اوسني دود په څېر يوازي د« نوروز» په ورځ پورته کېدې،که بې « نوروزه » تل تر تله ځړېدلي ساتل کېدې؟ دا دوې خبري په مانا کي ډېر توپير لري؛

ځکه د بیرغونو ځړول کېدای سي عامه بڼه ولري؛ لکه د اختر، جشن، ورزشي لوبو، ملي ورځو او داسي نورو خوښییو په خاطر د بیرغونو ځړول، چي په حقیقت کي د هیڅ زماني او مکاني قیدتابع نه دي؛ په داسي حال کي چي جنډه پورته کول د خاصو زماني او مکاني شرایطو تابع دي . په بله ژبه، جنډه د یوه ځانګړي دیني اوکولتوري دود په شان یوازي پر ټاکلي وخت (نوروز) او ټاکلي ځای کي پورته کیږي .

د غزنویانو د دوري نومیالی مؤرخ - عبدالحی ګردیزی (د څلور سوه دو څلویښت او څلورسوه درو څلویښت " ۴۴۲- ۴۴۳" هجري قمري په شاوخوا کي) په خپل ارزښتناک تاریخ ( زین الاخبار) کي د « نوروز» د ځینو ځانګړتیاوو په بیانولو سره د جنډې پورته کولو دود او دستور ته هیڅ اشاره نه کوي . دی زموږ د آریایي پلرونو او نیکونو په ژوند کي د بېلابېلو مهمو ورځو د تشریح کولو په لړ کي داسي کاږي :
« دې ورځي ته ځکه نوروز وایي، چي د کال پیل دئ؛ شپه و ورځ سره برابریږي ؛ سیوری تر دېوالو تېرېږي؛ لمر تر کړکیو را لوېږي . د مغانو[ زردشتیانو] په پاچهی کي د دوی دود او رسم داسي ؤ، چي په دې ورځ به یې مالیات پیل کول . عجمیان وایي : په دې ورځ جمشید پر ګیلګي یا خوسکي کښېناست؛ او جنوب خواته د دېوانو/ دېبانو او تورانو جګړي ته ولاړ؛ له هغوی سره یې جنګ وکړ؛ او ټول یې مات کړه.» (ګردیزی ۵۱۸ ) .
دا چي عبدالحی ګردېزی په « نوروز» کي د جنډې پورته کولو خبري ته اشاره نه کوي، مانا یې داده، چي ښایی دا جال او دستور د لرغونو آریایانو په زمانه کي نه ؤ.

د مؤرخانو او جغرافیانګارانو له بیانونو او روایتونوڅخه په ډاګه ښکاري، چي د « نوبهار» پر ګومبته د زرغونو ورېښمینو بیرغونو ځړول د اسلام تر پیدایښت ډېر زوړ او پخوانی دود دئ . که د« نوبهار» پر لویه ګومبته د زرغونو ورېښمینو جنډېو ځړول اصلاً زردشتي دود او دستور ؤ، چي په بودایي او اسلامي دورو کي هم پاته ؤ، بیا نوپوښتنه دا ده چي دا دود او بایده ولي د زردشتي دین په نورو معابدو کي نه لیدل کیږي؟ زردشتي دین خو تر اوسه د ایران په ځینو سیمو کي رواج دئ؛ مګر موږ هیڅکله د ایران په زردشتي معبدونوکي د جنډې پورته کولو جال نه وینو. د دې خبري مانا دا ده، چي په اوسنی افغاني بڼه جنډه پورته کول اصلاً آریایي رسم نه دئ .

ماته دا خبره یو څه له امکانه لیري ښکاري، چي د بلخ د « نوبهار» دود او بایده دي د زردشتي او بودایي دین نورو سیمو ته هیڅ لاره او نفوذ نه وي موندلی؛ ځکه د مؤرخانو په شواهدو او اسنادو کي مو ولیده، چي خلګو د تبرک او تیمن له پاره په سند او سمرقند کي هم خپل معابد د « نوبهار» په نامه یادول . په « مروج الذهب »یا « معادن الجوهر» یا « مسعودي تاریخ » کي مو د نامتو عرب مؤرخ - أبو الحسن علي بن الحسین بن علي المسعودي (۲۸۳هـ ق/ ۸۹۶ع - ۳۴۶ هـ ق/ ۹۵۷ع) له هغه بیانه څخه چي لسترنج په خپل اثر( د شرقي خلافت تاریخي جغرافیه)کي اخیستی دئ، دا ولیده چي آریایانو د بلخ « نوبهار» ته د مسلمانانو د کعبې په شان درناوی کاوه . پر مسعودي سربېره د حکیم فردوسي په شاهنامه کي هم دې خبري ته په روښانه ټکو اشاره سوې ده. دې واقعیتو ته په پام سره نو د دې پوښتني وړاندي کول بې ځایه نه برېښي، چي نورو زردشتي معابدو ولي د « نوبهار» د جنډې پورته کولو جال نه پاله؟

دا خبره هم له ورایه څرګنده ده، چې د جنډو پورته کولو دود اسلامي ریښه نه لري؛ او باید یې هم ونه لري؛ ځکه چې نه یې په اسلامي اصولو کې یادونه سوې ده؛ او نه یې هم چا په نورو اسلامي هیوادو(څه سُني، څه شیعه او څه نورو) کې څه نښه نښانه لیدلې ده. البته د دې خبرې مانا دا نه ده، چې ځوک دې په بامیان کې د بودا د مجسمو په څېر دا تاریخي دود په ګولیيو یا متحجرو اداري فرمانونو سره له منځه یوسي . د یوه څېړونکي او پلټونکي په توګه زما مسوولیت او رسالت یوازې د حقایقو ښننه او سپړنه ده .

بله خبره دا ده، چې « نوبهار» معبد خو په څلوېښتم ( ۴۰) هجري قمري یا شپږ سوه و شپېتم (۶۶۰ع) کال د حضرت معاویه بن ابوسفیان د واکمنۍ پر مهال د عرب فاتح - قیسل بن هیثم سلمی له خوا و نړول سو. وروسته بیاپه یو سلو اته اویا( ۱۷۸) هجري کال د خراسان والي - د یحیا برمکي زوی - فضل د « نوبهار» د کنډوالو په یوه برخه کې ماجت جوړ کړ، چې وروسته د چنګېز له خوا وران سو. د تاریخي اسنادو له مخې پوهېږو، چې تموچن چنګېزخان ( په ۵۴۹ هـ ق/ ۱۱۵۴ع کې زوکړی) د ۶۱۷ هـ ق/ ۱۲۲۰یا۶۱۸ هـ ق/ ۱۲۲۱ع کال په شاوخوا کې پر بلخ برید وکړ( حبیبی، تاریخ مختصر افغانستان ۲؛ غبار ۲۰۸). البته مسلمانانو د چنګېزیانو تر خونړي تاړاک وروسته بیرته هغه ماجت ودان کړ، چې د مراکش د نامتو سیاح - ابن بطوطه ( ۱۳۰۴-۱۳۷۸ ع) تر وخته لا په پوره برم او شان سره ولاړ ؤ. البته، مخکې مو دې خبرې ته لنډه اشاره وکړه، چې تاریخي سندونه په « نوبهار» یا بل زردشتي معبدکې د جنډې پورته کولو رسم ته ګوته نه نیسي . په داسې شرایطو او حالاتو کې نو تر ټولو مهمه او اساسي پوښتنه دا ده، چې په بلخ کې د جنډې پورته کولو دود او دستور له کومه را پیدا سو؟ آیا د بلخ بومي اوسېدونکو دا رسم له چنګېزي لښکرو یا د هغو له پاته سوو کسانو څخه واخیست که څنګه؟ آیا دا خبره چې لیرې مېشت مغولي ولسونه اوس هم زموږ افغانانو په څېرد کال په پیل کې جنډې پورته کوي، له هغوی سره زموږ د ځینو تاریخي پېښو د یو ځای والي یا اشتراک، ښکارندوی نه ده؟

بله پوښتنه دا ده، چې د جنډې پورته کولو دود او دستور څنګه تر دونه زماني پړاونو او مکاني بدلونو وروسته په خواجه خیران یا اوسني مزار شریف کې د حضرت علي کرم الله وجهه پر مزار بیرته را ژوندی سو؟

د دې پوښتني د جواب له پاره بې ګټي نه ده، چې د میرخوند له خولې د لسترنج بیان تر نظر تېر کوو.

لسترنج د هرات د تیموري دورې د مؤرخ - میرخوند (۱۴۳۳- ۱۴۹۸ع) د مشهور اثر« روضة الصفاء » په استناد د حضرت علي کرم الله وجهه قبر موندني ته د اشارې په ترڅ لیکلي دي : کله چې معین السلطنه اوخلافه میرزا بایقرا په اته سوه پينځه نیوي (۸۹۵ هـ ق) کې د بلخ په قبة الاسلام کې د ایالت بیرغ لوړ کړئ ؤ، د بایزید بسطامي له اولادو څخه شمس الدین نومی سړي بلخ ته ورغی؛ او یو کتاب یې ورته وړاندي کړ، چې د سلطان سنجر په زمانه کې لیکل سوی ؤ. په دې کتاب کي لیکلي وه، چې د اولیاوو د پاچا - علي بن ابي طالب قبر د خواجه خیران د کلي په پلاني ځای کي دئ . میرزا بایقرا سیدان، مَخَوَر او قاضیان ور ټول کړه؛ او هغه کلي ته ولاړه، چي له بلخ څخه درې فرسخه[هرفرسخ یا فرسنګ تقریباً شپږ کیلو متره] لیري پروت ؤ. په هغه ځای کې یې یوه ګومبته ولیده، چې په منځ کې یې یو قبرؤ. ویې ویل، چې قبر وکینئ. تر کیندني وروسته، د سپیني ډبري یوه شنخته پیدا سوه، چې پر کښل سوي وه : دا د رسول الله د ورور- اسدالله - علی [ ولی ] الله قبر دئ . د دې لیکني په لیدو سره ټولو بې اختیاره پر هغه سپېڅلي خاوره سجده وکړه. میرزا بایقرا د سلطنت مرکز هرات ته ایلچي ولېږه . وروسته منصور خاقان هورې ورغی؛ پر قبرېي ډېره لوړه ګومبته او شاوخوا ته یې سایوانونه او

خوني جوړي کړي؛ او په دې توګه خواجه خيران [ اوسنی مزار شريف ] د ودانيو او کرني د ډېروالي له کبله د مصر صفت وموند؛ او په لږ وخت کي دونه خلک پکښي مېشت سوه، چي بيان يې په ويلو او ليکلو کي نه ځايېږي . » ( لسترنج ۴۴۸- ۴۹؛ بيژند ۲۳۳- ۳۴ ) .

دا چي څوک په خواجه خيران يا اوسني مزار شريف کي د حضرت علي کرم الله وجهه د مزار موندني تاريخي پېښه مني يا هغي ته د شک او ابهام په سترګه ګوري، زموږ د څېړني او پلټني موضوع نه ده. هغه څه چي موږ ته په دې ليکنه کي ارزښت لري، د دې ټکي روښانه کول دي، چي د جنډې پورته کولو دود څنګه سلګونه کاله وروسته، له « نوبهار» څخه شاوخوا درې فرسخه ليري په خواجه خيران کي د حضرت (رض) پر مزار بيرته را ژوندی سو؟ زه ګومان نه کوم، چي مؤرخانو دې په خواجه خيران کي د حضرت علي کرم الله وجهه تر مزار موندني مخکي يا وروسته د جنډې پورته کولو دود ته اشاره کړې وي . لوی استاد - ارواښاد علامه حبيبي د « نوبهار» د ګومبتي وربېښمينو زرغونو بيرغونو د تشريح او بيان په ترڅ کي يادونه کړې ده، چي دا بيرغونه تراوسه د حضرت سخي (رض) په مزار کي پاته دي؛ او د « نوروز» په پرتمينو مراسمو کي پورته کيږي . شک نسته، چي په اوسني مزار شريف کي د سخي د زيارت بيرغونه سړي ته په بلخ کي د زردشتيانو د « نوبهار» د ګومبتي بيرغونه ور په يادوي . البته دا خبره له تعقل او منطق بشپړ سمون لري، چي د زردشتيانو پخواني دوداو رواج پښت پر پښت، د مسلمانانو پر لاس ماجتونو او نورو مقدسواسلامي ځايونو ته لاره موندلي وي؛ خو د لرغوني بلخ په « نوبهار » کي د بيرغونو ځرول په اوسني مزار شريف کي د« نوروز» د جنډې پورته کولو له دود سره ډېر توپير لري .که جنډه پورته کول په ريشتيا هم د هماغه لرغونو آريايي بيرغونو يوه اليشه سوې بڼه وي، بيا نو لږ تر لږه بايد د دې دود او دستور ځيني نښي نښاني په نورو آريايي او زردشتي ټولنو کي هم ژوندی وای . بايد يادونه وکوو، چي د افغانستان په ځينو سيموکي د دې رسم يو و نيم ژوندي مثالونه او بولګي په حقيقت کي زوړ تاريخ نه لري . داسي ښکاري، چي ټول په مزار شريف کي د جنډې پورته کولو د وروستي دود په پيروی باب سوي دي . زماد اټکل له مخي ښايي په اوسنی بڼه د جنډې پورته کولو دود يا له بهر څخه راغلئ وي، لکه څنګه چي يوه بولګه يې د برتانيي يوې تلوېزوني شبکي په يوه مستند فيلم کي ننداري ته وړاندي کړه؛ اويا هم په دې ورستيو لسيزوکي د هيواد په دننه کي د ځينو مذهبي ډلو نوښت وي . د هيواد له سترګه ورو مؤرخانو او مدققو څېړونکو څخه هيله کوم، چي په خپلو ارزښتناکو علمي څېړنو او پلټنو سره دا نيمګړې پلټنه سمه اوبشپړه کړي .


## ماخذونه او منبعي

آيتی، عبدالمحمد. تحرير تاريخ وصاف . بنياد فرهنګ ايران، ۱۳۴۶ .

ابن حوقل، ابوالقاسم محمد. صورت الارض. ترجمۀ جعفر شعار. تهران : بنياد فرهنګ ايران، ۱۳۴۹.

ابن فقيه همدانی. مختصر البلدان. ترجمۀ مسعود. تهران : بنياد فرهنګ ايران، ۱۳۴۹.

الحموی، ياقوت، ابوعبدالله . مُعجَم اَلبُلدان . جلداول . بيروت : دار الکتب العلمية، ۱۹۹۰ .

الشهرستانی، محمد بن عبدالکريم . الملل و النحل. چاپ سوم . بيروت : دارالمعرفة للطابعة و النشر، ۱۹۷۲.

بيژند، فريد. « حواشی و تعليقات.» بر جغرافيای تاريخی افغانستان تأليف ميرغلام محمد غبار. کابل : وزارت اطلاعات و کلتور، ۱۳۶۸.

حافظ آبرو، شهاب الدين عبدالله. جغرافیای ربع خراسان هرات. به کوشش مایل هروی . بنیاد فرهنگ ایران : ۱۳۴۹.

حبیبی، عبدالحی . تاریخ افغانستان بعد از اسلام. چاپ سوم . تهران : دنیای کتاب، ۱۳۶۷.

--- . « تعلیقات .» پټه خزانه. د محمد هوتک تألیف. دوهم چاپ . کابل: د پوهنې وزارت،۱۳۳۹.

--- . تاریخ مختصرافغانستان . ۲ج . کابل : انجمن تاریخ و ادب، اکادیمی افغانستان، ۱۳۴۹.

--- . « بیرق در افغانستان .» علامه حبیبي داټ کام . مقالات . تاریخي جغرافیه .

--- . « نوبهار.» علامه حبیبي داټ کام . مقالات . تاریخي جغرافیه .

--- .« واره .» علامه حبیبي . داټ کام . مقالات. تاریخي جغرافیه .

حدود العالم من المشرق الی المغرب. به تصحیح منوچهر ستوده . ایران : ۱۳۴۰.

عنصری بلخی. دیوان. به کوشش دبیر سیاقی . چاپ دوم. ایران : ۱۳۶۳.

غبار، میر غلام محمد. افغانستان در مسیر تاریخ. ایران : مرکز نشر انقلاب با همکاری جمهوری، ۱۳۶۸ .

فرخی سیستانی، دیوان. به کوشش دبیر سیاقی. ایران : ب . ت .

http://ganjoor.net/farrokhi/divanf/ghasidef/sh۳۲/

فردوسی. ابوالقاسم . شاهنامه . به کوشش سعید حمیدیان، بر اساس چاپ مسکو (۱۹۶۰- ۱۹۷۱) تهران: ۱۳۵۲.

فردوسی. ابوالقاسم . شاهنامه. مسکو: به تصحیح انستیتوت خاورشناسی آکادیمی علوم شوروی، ۱۹۷۱-۱۹۶۰) .

فردوسی. ابوالقاسم . شاهنامه. به کوشش مجتبی مینوی، عباس اقبال، سلیمان حییم و سعید نفیسی: تهران: بروخیم، ۱۳۱۵ .

گردیزی، ابوسعید عبدالحی بن ضحاک ابن محمود. تاریخ گردیزی. به تصحیح و تحشیه و تعلیق عبدالحی حبیبی . تهران : بنیاد فرهنگ ایران، ۱۳۴۷.

، ۵۱۸)۴۴۲- ۴۴۳ هجری قمری،

لسترنج . جغرافیای تاریخی خلافت شرقی. ترجمهٔ محمود عرفان . چاپ سوم . تهران : شرکت انتشارات علمی و فرهنگی، ۱۳۶۷.

یاقوت حموی الرومی البغدادی، **شهاب الدین ابی عبدالله یاقوت بن عبدالله** . معجم البلدان . ترجمهٔ داکتر علنیقی منزوی . چاپ اول . تهران : چاپخانهٔ معراج، ۱۳۸۰.

یعقوبی، احمدبن ابی یعقوب بن جعفربن وَهْب بن واضح . البلدان [ تاریخ یعقوبی] . دو جلد. ترجمهٔ دکتر ابراهیم آیتی . تهران : بنگاه ترجمه و نشر کتاب، ۱۳۴۲.